DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۲۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۲۴ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۹۹ گڼه د ۱۳۹۰ ل-دوري ۳۱ مه – د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هق جمادي الاول ۱۵ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۲۰ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د دفاع وزارت چارواکي دې استعفا وکړي!!

د مشرانو د جرگې يو شمېر غړي وايي، د ملي دفاع د وزارت چارواکي ځکه بايد له خپلو دندو استعفا وکړي، چې پر دغه وزارت د برید په مخنيوي کې پاتې راغلل.

ورمه ورځ يوه تن، چې د ملي اردو جامې يې پر ځان وې، په دفاع وزارت کې ځانمرگی برید وکړ او د چارواکو په وينا، له امله يې د ملي اردو دوه سرتېري ووژل شول او ۷ نور ټپيان شول. په مشرانو جرگه کې د کابل د خلکو استازي نثاراحمد حارث پرون د دې جرگې په عمومي غونډه کې د ملي دفاع د وزارت پر چارواکو له دې امله نيوکه وکړه، چې **۳مخ**

تر لسو کلونو وروسته یو ځل بیا د بُن غونډه جوړېږي

دا چې داوړي د موسم په رارسېدو سره په افغانستان کې د طالبانو په ځان وژونکو حملو سره وضعه خرابه شوې، د امریکا سپینې ماڼۍ، د بهرنیو چارو وزارت او دفاع وزارت پتیلې چې په راتلونکو څو میاشتو کې په افغانستان کې د سولې ماته گوډه سیاسي عملیه چټکه کړي او د جگړې د ختمېدو لپاره منځگړیتوب وکړي.

ناټو هېوادونه، په خاص ډول انگلستان او دغه راز پاکستان له اوږدې مودې راهیسې د افغانستان د جگړې د پای ته رسولو په کار کې د متحدو ایالاتو له ناغېږۍ او ورو حرکت څخه سرټکوي او هغه ۴۹ هېوادونه چې په افغانستان کې پوځي حضور لري، له افغانستان څخه د وتلو شېبې شمېري.

د امریکا حکومت په دننه کې د خپلو خلکو تر فشار لاندې دی او د یوې وروستۍ ټولپوښتنې پر اساس، دوه پر دریمه برخه امریکایان وایي، د افغانستان جگړه له دې وروسته ارزښت نه لري. بله دا چې د افغانستان د جگړې لگښت په اوونۍ کې دوه میلیارده ډالره دی چې دا هم د امریکا او اروپایي هېوادونو مالیه ورکوونکو ته یو دروند بار دی.

احمد رشید د فایننشل ټایمز په مقالې کې لیکي: له تېر مني راهیسې امریکایي چارواکو د طالبانو له استازو سره څو ځلې خبرې کړې دي، خو د طالبانو لپاره د یوه دفتر یا ادرس برابرول یوه ستره ستونزه ده.

امریکا دا مهال منلې چې په کوم عربي هېواد او یا ترکیې کې طالبانو ته یو دفتر پرانیزي.

د احمد رشید په وینا، دا به په تېرو لسو کلونو کې د امریکا په پالیسۍ کې یو ستر او قاطع بدلون وي. که چیرې دا خبرې سمې پرمخ لاړې شي نو د طالبانو دفتر به افغانستان ته انتقال شي. **۳مخ**

په افغانستان کې سوله او پردي لاسونه!

ن – بريال

د افغانستان جگړه چې د هرې ورځې په تېرېدو سره نه یوازې کرارېږي نه، بلکې نوره هم زوراخلي او تر ډېره بریده زموږ بې وسه او غریب ولس د دې جگړې په اور کې سوځېږي او تر ډېره یې تاوان، مرگ ژوبلې او ورانۍ هم دوی ته رسېږي. دا دې نږدې بیا یوه لسیزه پوره کېدونکې ده، چې په افغانستان کې جگړه روانه ده او هره ورځ لا پسې تودېږي، خو د همدې جگړې لوبغاړي کله یوه خبره کوي او کله بله. دوی په خبرو کې له اوله تر دې دمه ډېر ضد او نقیض مسایل راغلي او راځي. موږ د دې شاهدان یو، چې غربیانو په افغانستان کې د دوی په اصطلاح د ترهگرۍ د له منځه وړلو لپاره پر دغه هېواد برید وکړ او همدا یې ویل چې په دې هېواد کې ترهگرو ځالې جوړې کړې او نړۍ ته یې خطر پېښ کړی او باید له منځه یوړل شي. په همدې پلمه یې پر افغانستان بریدونه وکړل او تر ننه یې په دې هېواد کې د جگړې اور بل ساتلی دی. هغه وخت دوی ویل، چې ترهگري په افغانستان کې ده، خو اوس چې پوه شول، چې په دې هېواد کې خپلې بریا ته نه شي رسېدلای او په یوه بانه نه یوه بانه غواړي د ځان لپاره د وتلو لار پیدا کړي. په همدې حال کې اوس له څه مودې راهیسې د غربي ډیپلوماټانو او چارواکو له خوا داسې خبرې کېږي، چې د ترهگرۍ ریښې اصلاً تر افغانستان بهر دي او له بهره او به



خوري او په افغانستان کې د جگړې اور گرم ساتي. دا خبره ورمه ورځ په افغانستان کې د امریکا سفیر وکړه او ویې ویل: ((د ترهگرو پناه ځایونه له افغانستان څخه بهر دي، خو هغوی به د دې ستونزې د مخنیوي لپاره په گډه کار کوي.))

نو په دې توگه دوی چې له اوله دا جگړه پیلوله ولې یې په دې اړه څېړنه نه کوله، چې ترهگر څوک دي، چا ته وایي او په کوم ځای کې یې روزنه کېږي؟ اوس چې دوی دا خبره کوي، چې ترهگري تر افغانستان بهر ده او له بهره په دې هېواد کې مخالفتونو ته لمنه وهل کېږي، نو بیا ولې دوی بهر ته په ترهگرۍ پسې نه ځي او ولې یې هلته له منځه نه وړي، ځکه دوني چې هر څومره ښاخونه اره کړې، بیا هم څانگې کوي او بیا هم څانگې کوي، خو کله یې چې ریښې له منځه یوسې، نو بیا داسې وچېږي، چې د تل لپاره به څانگې ونه شي کړای. نو که دوی هم په **۳مخ**

شاهراه کابل – کندهار همچنان مسدود است

شاهراه کابل –کندهار، برای سومین روز به علت تخریب پول متی در ولسوالی گیلان ولایت غزنی، به روی هزاران موتر همچنان مسدود است.

سرسارمن گل احمد قوماندان امنیهٔ

گیلان دیروز گفت که از سه روز گذشته بدینسو، صدها موتر مسافر بری و باربری، به علت تخریب پل متی، بند مانده اند.

وی افزود که این مشکل را با مقام ولایت غزنی، قوماندانی امنیه و تیم بازسازی ولایتی در میان گذاشته، اما تاکنون در رابطه به آن، کدام اقدامی صورت نگرفته است.

الله نور یک راننده گفت که بیش از چهار هزار موتر، از سه روز گذشته بدینسو، در هر دو طرف پل، بند مانده اند.

وی علاوه کرد که شماری از موترهای کوچک، **ص۳**

اخبار جنگ افغانستان در امریکا سانسور می شود

شماری از شهروندان امریکایی از گزارش اخیر اشپیگل از تصاویر تکان‌هندهٔ اهانت سربازان امریکایی به اجساد غیرنظامیان افغان ابراز بی اطلاعی کردند.

نظامیان امریکایی در حال اهانت به اجساد غیرنظامیان افغان در حالی که جنایات نظامیان امریکایی در جنگ افغانستان بازتاب جهانی داشته است، مردم امریکا و رسانه‌های این کشور از چنین جنایاتی کاملا بی‌اطلاع هستند. به گزارش خبرگزاری آوا، خبرنگار پرس تی‌وی در گفتگو با شماری از مردم امریکا درباره گزارش اخیر نشریهٔ آلمانی اشپیگل از تصاویر تکان‌هندهٔ اهانت سربازان امریکایی به اجساد غیرنظامیان افغان سوالاتی را مطرح کرده که شهروندان امریکایی نه تنها پاسخی برای آن نداشتند، بلکه از اصل ماجرا نیز بی خبر بودند. اکثر پاسخ دهنده گان نسبت به وقوع چنین رفتارهای خشونت‌باری اظهار بی‌اطلاعی کرده و مهمترین عناوین خبری جهان را خیزش‌های مردمی در شرق میانه و بحران هسته‌یی جاپان ذکر کرده‌اند. این خبر در حالی در رسانه‌های امریکا منتشر نشده و اذهان عمومی مردم این کشور نسبت به آن بی‌اطلاع **ص۳**

هفتهٔ ملی واکسیناسیون آغاز یافت

درهفتهٔ ملی واکسیناسیون که دیروز آغاز یافت، در کنار آگاهی دهی در مورد اهمیت واکسین در ۵۰ ولسوالی که دارای سطح پوشش پایین واکسین بوده، برنامه های تطبیق واکسین راه اندازی می شود. ین مطلب را داکترثریا دلیل سرپرست وزارت صحت عامه در مراسم آغاز هفتهٔ ملی واکسیناسیون به تاریخ ۳۰ حمل در کلینیک رحمان مینه شهرکابل بیان داشت. وی بدون ارایهٔ جزییات بیشتر گفت که ۵۰ ولسوالی مورد نظر مربوط ولایات مختلف کشور بوده، اما تعداد زیاد این ولسوالی ها در ولایات ناامن کشور موقعیت دارد.

به اساس معلومات منبع، تیم های سیاروزارت صحت عامه، طی هفته ملی واکسیناسیون، اطفال زیرسن پنج سال این ولسوالی ها را دربرابر امراض توبرکلوز، فلج اطفال، دیفتری، سیاه سرفه، تیتانوس، زردی سیاه، سرخکان و انفلونزای فصلی واکسین خواهند نمود.

دلیل از مخالفان دولت، بزرگان قوم، ملاامامان و ریش سفیدان خواست که با تیم های صحی آن وزارت همکاری نموده و زمینه را مساعد نمایند، تا تمام اطفال دربرابر امراض واکسین شوند.

همچنان موصوف از خانواده ها نیز، تقاضا نمود، تا اطفال شان را ازطریق تطبیق **ص۳**

آیانیروهای مسلح کشور توانایی تامین امنیت(؟) را خواهند داشت؟ **۲**

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

بر پیامد نیرنگ های سیاسی نباید مطمین بود

به سلسلهٔ رفت وآمدهای دیپلوماتیک در این هفته کابل مهماندار چند تن از مقام های عالیرتبهٔ ملکی و نظامی کشورهای مختلف بود که از آنجمله یکی هم سفر صدراعظم پاکستان با احمدشجاع پاشا رییس استخبارات مرکزی (آی. اس. آی) و لوی درستیز آن کشور بود. البته این سفر صدر اعظم پاکستان دومین سفر وی در مدت چهار ماه گذشته، به افغانستان است. قرار گزارش ها در جریان این بازدید پیرامون انکشاف روابط دو جانبه در ارتباط به مبارزهٔ مشترک علیه تروریزم و انکشاف و تداوم همکاری های اقتصادی بین دو کشور، صحبت هایی صورت گرفت. اما ناظران سیاسی به این باور اند که این رفت و آمدها و این دید و بازدیدها که بیشتر جنبهٔ تشریفاتی دارد و نظربه لزوم دید منافع و یا فشارهای بین المللی صورت می گیرد، گره یی از مشکل افغانستان که فعلاً دامنگیرش است، نخواهد گشود، چنانکه در طول ده سال گذشته، چنین رفت و آمدها نتایج مثمری در قبال نداشته است.

سفر مقام های بلند پایهٔ نظامی، استخباراتی و دولتی پاکستان هنگامی به افغانستان صورت می گیرد که تلاش ها به منظور ایجاد دفتر نماینده گی سیاسی طالبان در کشور ترکیه آغاز شده است و از جانبی هم به خاطر تاسیس پایگاه نظامی امریکا در افغانستان، لویه جرگهٔ عنعنوی فراخوانده می شود. بادرنظرداشت زدوبندهای سیاسی، قبل از سفر گیلانی به افغانستان، رییس جمهور پاکستان در یک سفر چهار روزه عازم ترکیه گردید، تا در رابطه به تاسیس دفتر نماینده گی برای طالبان، با همتای ترکی اش مذاکره نماید. هدف از این سفرهای مزورانهٔ دولتمردان پاکستانی به کشورهای امریکا، ترکیه و افغانستان آن است، تا پاکستان نقش محوری خود را در رابطهٔ ایجاد مذاکرات صلح با طالبان از دست ندهد و در راستای حل اختلافات بین افغانستان و طالبان پیش قدم شده و مانند سایر زدوبندهای قبلی از جوامع بین المللی امتیازاتی کسب نماید.

در حالی که موافقهٔ امریکا برای افتتاح دفتر نماینده گی سیاسی طالبان در ترکیه، جنرالان نظامی، اجنت های استخباراتی و حکمرانان دولت پاکستان را سخت دست و پاچه نموده است. اگر چنین اقدامی جامهٔ عمل بپوشد، دیگر خواب های پریشان تفرقه اندازان و استفاده جویان دستگاه استخباراتی پاکستان که سال های متمادی تا کنون ادامه دارد، به حقیقت نپیوسته و مرام های شوم شان نقش بر آب خواهد شد. با وجودی که افغانستان بارها تاکید نموده که ایجاد یک افغانستان پر امن، باعث ایجاد آرامش و ثبات در منطقه می گردد، ولی این نظر کمتر مورد توجه کشورهای منطقه قرار گرفته است. افغانستان همواره به منظور برقراری صلح در منطقه پیش قدم شده و جرگه ها و کمیسیون هایی را نیز، به این منظور تدویر و ایجاد نموده است، اما جانب پاکستان همیشه از سیاست های دوگانه کار گرفته و در عملکرد های خویش صادق نبوده است.

این بار نیز، هیأت پاکستانی با پالیسی دوگانهٔ دیپلوماسی به منظور تعیین هیأت صلح که آنهم یک جانبه و به منافع کشور پاکستان است، سفری به افغانستان نمود، تا پروندهٔ مسایل سیاسی افغانستان را به دست خود گرفته آنرا در عقب دیوارهای فرسودهٔ دستگاه استخباراتی کشور خویش با حکمیت جنرالان متقاعد به نفع خود فیصله نموده و امتیازاتی در زمینه کسب نماید.

با تاسف هر قدر که زمان پروسهٔ صلح طولانی تر می شود، به همان اندازه در اعمال تخریبکارانه، حملات انتحاری، ویرانی مکاتب و کشتار انسان های بیگناه این کشور نیز، افزایش به عمل می آید؛ زیرا از سیاست های دوگانه و پالیسی های جانبدارانه غیر از این چه توقعی می توان داشت؟

مردم داغدیده و رنج کشیدهٔ افغان که سه دهه را در آرزوی یک لحظه آرامش به دلهره سپری نموده اند، خواهان آن اند، تا اگربه خاطر چکک سقف خانه، شب هنگام خواب آرامی به چشمان شان راه نمی یابد، حد اقل در روز روشن ازصدای مهیب حملات انتحاری و گزند اعمال تخریبکارانهٔ دشمنان وطن در امان باشند.

آیانیروهای مسلح کشور توانایی تامین امنیت(؟) را خواهند داشت؟

دکتراندس م. نبی هیکل



در حالی که مراحل آزمایشی انتقال مسوولیت از نیروهای جامعهٔ بین المللی به نیروهای مسلح کشور آغازگردیده، شک و تردیدها و حدس و گمان ها در رابطه به توانایی و عدم توانایی نیروهای مسلح افغان برای تامین امنیت تقویت یافته است. با برعهده گیری تدریجی مسوولیت تامین امنیت که وظیفهٔ آنها می باشد، نیروهای مسلح افغان مسوولیت پیشبرد جنگ علیه مخالفان را- کم از کم در صف مقدم- نیز، برعهده می گیرند.

تنها دو دلیل این فرضیه را حمایت می نماید که نیروهای مسلح افغانستان می توانند امنیت (؟) را تامین نماید. پیش از بیان این دو دلیل باید نخست از همه واضح سازیم که امنیت از نظرما چیست و سپس دلایل و عوامل بی امنیتی را شناسایی نماییم. تعریف نظری و تیوریتیکی امنیت ممکن است، ایدیال باشد و مراحل پیشرفتهٔ امنیت و احساس امنیت و مصوونیت را احتوا نماید که تامین آن در شرایط کنونی دشوار می باشد. به همین دلیل، نه تنها تعریف تیوریتیکی، بلکه تعریف عملی را نیز، باید درنظر داشت، تا در تعیین درجهٔ امنیت با دشواری رو به رو نگردیم.

امنیت در فرهنگ ویبستر به معنای آزادی از خطر، ازهراس و نگرانی، حالت امن و مصوون بودن است. به تدابیری نیز گفته می شود که در مقابل اعمال جاسوسی و تخریبکارانه، حملات و جنایات انجام می گردد. به سازمان هایی که وظایف تامین امنیت را دارا اند، نیزاطلاق می شود.

امنیت را به حیث حاکمیت قانون در شرایطی می توان توصیف نمود که در آن نه تنهاهراس از تهدید فزیکی و روحی وجود نداشته باشد، بلکه زمینه های تامین عدالت و تحقق حقوق و آزادی های فردی نیز، در چهارچوب قانون فراهم باشد. در یک عبارت کوتاه، امنیت شامل امنیت فزیکی، احساس امنیت و موجودیت ضمانت مربوط به آن دو می باشد.

وقتی گفته می شود که وضع امنیتی با گذشت هر روز بدتر می شود و یا اعلام می گردد که این یا آن سال خونبار یا دشوارتر خواهدبود، به معنای این است که نیروهای نظامی جامعهٔ بین المللی و نیروهای امنیتی افغان نتوانسته اند، امنیت را تامین نمایند. چنین اظهارات دو سوال اساسی در بحث کنونی را موجب می گردد:

۱) چرا این نیروها با تکنالوژی و دانش نظامی پیشرفته نتوانسته اند، در همکاری با همدیگر امنیت را تامین نمایند؟

۲) با درنظرداشت تجارب همکاری های مشترک نظامی نیروهای ایساف و نیروهای افغان و نتایج مایوس کنندهٔ این همکاری ها در سال های گذشته، نیروهای امنیتی افغان قادر به تامین امنیت خواهند شد؟ تجارب سال های جنگ علیه تروریزم دو نتیجهٔ عام را بدست داده است:

الف) تناسب میان عملکرد نظامی و شدت جنگ مبین تناسب مستقیم میان آن دو بوده است. به هر اندازه یی که نیروهای نظامی بیشتر با تکنالوژی بیشتر وارد جنگ شده اند، به همان پیمانه وضع امنیتی وخیمتر گردیده است.

ب) تاثیرات جنگ بر مورال و موضعگیری طرفین مبین تناسب منفی می باشد. با افزایش نیروها در جنگ علیه تروریزم مورال جنگی نیروهای حکومتی و جامعهٔ بین المللی ضعیف تر شده و مورال مخالفان این نیروها تقویت یافته -امد به پیروزی در یکسو ضعیف و در سوی دیگر نیرومند گردیده- جامعهٔ بین المللی به شناسایی مخالفان خود در جنگ علیه تروریزم وادار گردیده اند.

تازمانی که دلایل و علل این گونه تغییرات و موضع گیری ها را نشناسیم، دلایل ناکامی و موفقیت این جنگ را نخواهیم دریافت. درحالی که دلایل بسیاری بیانگر عدم توانایی نیروهای امنیتی کشور می باشد، تنها دو دلیل این فرضیه را حمایت می نماید که نیروهای مسلح افغانستان می تواند امنیت (؟) را تامین نماید. روحیهٔ وطندوستی و وطنپرستی در نیروهای امنیتی افغان برای آنها این انگیزه را فراهم خواهد کرد، تا با مخالفان به حیث مهاجمان برخورد نمایند. موضعگیری های گروپی نیز زمینه هایی را فراهم می نماید، زیرا بخشی از نیروهای جهاد و مقاومت که در پست های کلیدی بخصوص امنیتی قراردارند و از همین اکنون به تقویت و تحکیم مواضع آغاز کرده اند، به گمان اغلب با روحیهٔ وطنپرستی به مسأله برخورد خواهند نمود. نشانه هایی مانند ترور افرادی در پست کلیدی و پلان ترور مقام های حکومتی، وجود دارد که این بیان آخری را تقویت می نماید.

دومین دلیل حضورنیروهای خارجی می باشد. زیرا جامعهٔ بین المللی به هر نحوی که ممکن است، از برگشت به گذشته جلوگیری خواهد کرد. جامعهٔ بین المللی برای این کار، بدیل های متفاوتی دارد که بادرنظرداشت شرایط یکی یا بیشتر ازآ نها را برخواهد گزید.

ایا واقعآ نیروهای امنیتی افغان توانایی تامین امنیت را پس از انتقال مسوولیت امنیتی خواهند داشت؟

همه می دانیم، تاریخ نشان داده که افغان ها توانایی دفاع از نوامیس ملی خود را دارا اند، مگر سخن بر سر نیروهای امنیتی کشور است که مطابق مواد قانون اساسی، وظیفهٔ دفاع و حراست از استقلال، تمامیت ارضی و نوامیس ملی را بر عهده دارند.

نیروهای امنیتی افغانستان به دلایل تعصب فکری، فقدان اداره و ضعف رهبری رهبران جهاد و مقاومت و عناصر خارجی نابود گردید. نتایج و ثمرات برخورد غیرمسوولانه و غیرعاقلانه آن روز را امروز با اشک و خون شاهدیم. کشور ما امروز در شرایطی که به نیروهای مسلح ملی توانا چون نوشدارو نیاز دارد، هنوز باید برای ایجاد آن کار نماید. نیروهای امنیتی ما باید در گام نخست به نیروهای مسلح ملی مبدل گردند و ظرفیت های مسلکی را ارتقا بخشند، از لحاظ تشکیلاتی لازمه هایی را رشد دهند که برای انجام وظایف پیشبینی شده در قانون اساسی کشور آنها را قادر می سازد. اینها همه شرایطی اند که برای نیروهای مسلح برای انجام وظایف ملی ضروری است.

مگر برای تامین امنیت ملی، نیروهای مسلح به چیزهای بیشتری نیاز دارد، زیرا مسلح بودن، داشتن ظرفیت های عالی نظامی و تشکیلات لازم و سالم به نرم افزاری نیاز دارد که کاربرد ملی هدفمند و موثر این نیروها را تامین می نماید.

این نرم افزار شامل اداره و رهبری و روحیهٔ وطنپرستی همه جزوتام های نظامی (قدمه های بالایی و پایینی) می باشد.

نیروهای امنیتی افغانستنان نه تنها برای تبدیل شدن به نیروهای مسلح با دشواری هایی رو به رو است که مستلزم زمان و مساعی صادقانه می باشد، بلکه برای ارتقای ظرفیت ها ی مسلکی و اکمال تشکیلاتی نیز، به زمان و مساعی صادقانه ضرورت دارد. در حالی که تربیت نظامیان افغان با مهارت های سوق و اداره (منجمنت) نیازمند کار تیوریتیکی و عملی می باشد، ایجاد روحیهٔ ملی وطنپرستی با تعصب فکری و اندیشه و عمل بر اساس منافع گروپی معمول در کشور در تضاد قرار دارد.

نیروهای امنیتی کشورما به گونهٔ لازم مسلح نیست، از استقلال کاری برخوردار نیست، از نگاه ساختاری فاقد جزوتام های لازم مانند قوای توپچی و دافع هوا و احتمالآ قوای هوایی اند، از لحاظ مهارت های مسلکی هنوز تحت تربیت قرار دارند، از نگاه وابستگی فکری باید ملی گردند و از نگاه وفاداری کاری، بیشتر گروپی اند، تا ملی. این ساختارها بر اساس ساختارهای سیاسی دوران جهاد و مقاومت ساخته شده اند و هنوز در خدمت دفاع از مواضع قبلی قرار دارند. عنصر مهم دیگر این است که خدمت سربازی بخصوص بر اساس قرارداد خدماتی صورت می گیرد که مشخصهٔ اردوهای اجیر شمرده می شود؛ زیرا کار دفاع در چنین حالت در بدل مزد صورت می گیرد نه به حیث وظیفهٔ ملی و و طنی.

فساد و وابستگی دو بلیهٔ عظیمی است که نه تنها انگیزه های دفاعی و وظیفوی را نابود می نماید، بلکه موثریت و هدفمندی فعالیت های نظامیان را نیز، متاثر می سازد. سرباز و افسر نه تنها به انگیزه نیاز دارد، بلکه به مشوق (مادی و معنوی) نیز ضرورت دارد، در حالی که فساد در ادارهٔ نظامی یا غیر آن، انگیزه های کاری را می رباید، به ایجاد سرمشق می انجامد. وابستگی بلای ص۳

اخبار جنگ افغانستان در ...

است که مقام های اردوی امریکا و ناتو پس از انتشار این تصاویر عذرخواهی کرده‌اند. قام های اردوی امریکا این اقدامات را مغایر با ارزش‌های ارتش خوانده‌اند، اما از هرگونه توضیح یا اظهار نظر دیگری خودداری کرده‌اند.

دانیل گوری محقق و منتقد امریکایی که سیاست‌های دولت امریکا در جنگ افغانستان را مورد بررسی قرار داده است، در گفتگو با خبرنگار پرس تی‌وی، تایید کرد که واشنگتن از انتشار اخبار مربوط به جنایات نظامیان این کشور در قبال غیرنظامیان افغان ممانعت به عمل می‌آورد.

گوری همچنین بر سکوت رسانه‌ها، کنگرهٔ امریکا و سازمان ملل در قبال این وقایع تاکید کرد.

در این تصاویر گروهی از سربازان امریکایی در افغانستان بعد از کشتن مردم بیگناه و غیرنظامی افغانستان، با بدن های بی‌جان آن‌ها عکس یادگاری انداخته بودند.

آیانیروهای مسلح کشور توانایی ...

دیگری است که باید با آن رزمید که در همدستی با فساد توانایی نیروهای امنیتی را برای تامین امنیت خنثی می نماید. ر سطوح مایکرو و میسو این وابستگی ها به حلقات مختلف سیاسی خارجی و داخلی، سیما و مشخصه های جنگ علیه تروریزم را تغییر می دهد. به دلیل فساد و بی عدالتی شایع در حکومت نارضایتی مردم اوج می گیرد و با مظالم نیروهای متحد حکومت از حالت مخالفت بالقوه به مخالفت بالفعل تبدیل می گردد. عامل مهم و کلیدی سمپاتی عقیدتی با طالبان از یکسو و نفوذ دشمنان استقلال و رفاه افغانستان از سوی دیگر را دامنهٔ جنگ را به داخل حصارها می کشاند. حوادث اخیر در محلاتی که با حصارها و برج و بار و محافظت می گردد، مانند انفجار در داخل وزارت دفاع و قومانداني امنیهٔ ولایت کندهار، گویای این حقیقت است. برهمه آشکار است که افغانستان به میدان رقابت منافع کشورهای مختلف، بخصوص همسایگان نزدیک مبدل گردیده است. مهاجرت های سیاسی عمدتآ به کشورهای پاکستان و ایران، بازار آزاد اقتصادی، تبدیل کشور به مارکیت امتعهٔ جهانی، حمایت های سیاسی و اقتصادی محافل مختلف از ساختارهای سیاسی، اقتصادی و نظامی کشور همه به ایجاد گروپ های منافع کشورهای مختلف (همچو اتحادیهٔ اروپا)، بخصوص پاکستان و ایران در ساختار سیاسی، اقتصادی و فرهنگی در افغانستان منجر گردیده است.

چنین وضعیت بر پروسهٔ اجنداء سازی و تصمیم گیری های سیاسی، اقتصادی و نظامی اثر می گذارد. مسدود شدن تلویزیون امروز، دشواری های ترانزیتی با پاکستان و ایران و سکوت ننگین مقام های افغانی در برابر مداخلات خارجی، مثال هایی از چنین موارد است. رنوع فعالیت نظامی موثر و هدفمند می تواند، در تحت چنین شرایط اثرمندی خود را از دست دهد. ر شرایطی که امور مهم کشوری در افغانستان بر اساس معیار رضاییت و خشنودی همسایگان و با درنظرداشت منافع آنها انجام گردد، کار نیروهای امنیتی کشور برای تامین امنیت ممکن است، ساده و سهلتر گردد. تاسیس کمیسیون مشترک با ترکیب جدید به پیشنهاد پاکستان هنگام سفر صدراعضم پاکستان به افغانستان، پاکستانیزه شدن امور را در افغانستان رسمی می سازد. در چنین حالت، حکومت پاکستان به حیث نمایندهٔ طالبان وارد میدان مصالحه می گردد، تا راه را برای حاکمیت افراد وابسته به خود هموار گرداند. رشرایط کنونی، صلحی که بدین ترتیب بدست می آید، منافع جامعهٔ جهانی را نیز- به قیمت حق حاکمیت ملی افغانها - مصوون می سازد. ین پیشامد و سایرانکشافات اخیر از چرخش بنیادی یی خبر می دهد که روابط افغانستان را با مردم و جهان خارج دوباره تعریف خواهد کرد.

هفتهٔ ملی واکسیناسیون ...

واکسین در برابر امراض کشندهٔ دورهٔ طفولیت وقایه کنند. ه اساس معلومات وزارت صحت عامه، در حال حاضر در افغانستان خدمات واکسین، ازطریق ۱۲۵۰ مرکز ثابت و ۲۰۰ کلینیک سیارعرضه می شود. مچنان منبع خاطرنشان کرد که در هفتهٔ ملی واکسیناسیون، برنامه های تبلیغاتی، جهت آگاهی بیشتر خانواده ها درمورد واکسین، نیز در سطح کشور افزایش داده می شود. به اساس معلومات دلیل در افغانستان، سالانه از هر ۱۶۰۰ طفل زیرسن پنج سال ۱۶۰ تن از اثرامراض قابل وقایه جان می دهند.

شاهراه کابل - کندهار همچنان ...

از راه های فرعی در قریه جات رفت و آمد می نمایند، اما اکثریت آنها به علت خرابی راه بند مانده اند. انجنیر محمدقربان رییس فوایدعامهٔ غزنی به پژواک گفت که این ریاست، به اندازهٔ کافی امکانات ندارد، تا در پهلوی پل تخریب شده، یک پل استحکامی را اعمار نماید. نامبرده افزود که از تیم بازسازی ولایتی و ارگان های امنیتی، برای گشایش این راه خواستار کمک های عاجل گردیده، اما تاکنون کدام اقدامی صورت نگرفته است. عبدالولی خانزاده منشی شورای ولایتی و باشندهٔ گیلان، اعتراض نموده گفت که ادارت مربوط، بعد از خبرداری از موضوع نیز، از امکانات خود کار نگرفته و فعلاً صدها موتر به هر دو طرف راه متوقف مانده اند. پل متی، در حدود ۱۲۰ کیلومتری شهر غزنی بر شاهراه کابل - کندهار، در ولسوالی گیلان موقعیت دارد.

په افغانستان کې سوله او ...

رښتیا سره غواړي چې په افغانستان کې امن راشي، نو باید په دې هېواد کې د مخالفت هغه بهرنۍ ریښې چې دوی یې یادونه کوي له منځه یوسي او په دې هېواد کې د سولې لپاره زمینه برابره کړي او که نه هسې د خپل گونگ سریال یوه په بله پسې ننداري ته ږدي، هغه بیا بېله خبره ده او په افغانستان کې د سولې له پروسې سره د مرستې په برخه کې کومه گټه نه لري.

د سولې په برخه کې او په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینگښت لپاره ډېر څیزونه اړین دي، چې باید په لومړي قدم کې قرار لري. هغه یو په دغه هېواد کې د بهرنیو پوځونو د وخت دقیقه موده، چې دوی باید په څومره وخت کې له افغانستانه ووځي، داسې نه لکه لوېدیځوال چې کله یو څه وایي او کله بل څه، بلکې دقیقه نېټه یې باید په ډاگه کړي او تر هغه وروسته یو محارب سرتېری یې هم پاتې نه شي او گردسره ووځي! بله د افغانستان د گاونډیانو پټه او ښکاره لاسوهنه ده، تر هغو چې په دې هېواد کې د گاونډیو هېوادونو لاسوهنه روانه وي په دې هېواد کې سوله امکان نه لري، خو دا لاسوهنه هم کېدی د دوی لپاره هم په راتلونکي کې لوی سرخوږی جوړ کړي. بل مهم څه دادي، چې کورنیو وسلوالو مخالفینو ته تر هغو چې پوره امتیازات ورنه کړل شي او د هغوی د ژوند او مال د ساتنې او خوندیتوب تضمین ونه شي، نو هغوی به هېڅکله هم سولې ته غاړه کېنږدي. نو که په رښتیا څوک په افغانستان کې سوله غواړي، نو لومړی باید ټول بهرني لاسوهنه لنډ او پورتنۍ یادونې تطبیق شي، له دې پرته په دې هېواد کې سوله شونې نه ده.

خصوصی مخابراتی شرکتونه ...

ولسمشر کرزي په تېرو دریو کلونو کې له طالبانو سره خبرې کړې خو دا چې امریکایي ملاتړ نه کاوه نتیجه یې نه ده ورکړې. طالبانو هم غوښتل چې له امریکایانو سره مستقیمې خبرې وکړي. احمد رشید وړاندې لیکي: بل پرمختگ دادی چې د امریکا او پاکستان د استخباراتو ترمنځ له څو میاشتو خپگان او شخړو وروسته، امریکایي چارواکي وایي، غواړي د افغانستان د جگړې د ختمولو په کار کې د پاکستان پوځ را داخل کړي او له پوځ څخه غواړي چې په پاکستان کې د طالبانو د پټېدو پر ځایونو باید واک حاصل کړي.

دامریکا حوصله دې خبرې ته تنگه شوې چې وایي، د پاکستان له مرستې پرته په افغانستان کې سوله نه شي ټینگیدلای. پاکستاني چارواکي هم امریکایانو ته په غوسه دي او وایي، له دوی سره استخباراتي معلومات نه شریکوي. تېره اوونۍ د پاکستان ملکي او پوځي مشرانو کابل ته د سفر پر مهال امریکایانو ته وښودله، چې دوی غواړي د کرزي او طالبانو ترمنځ خبرو کې مرسته وکړي. احمد رشید لیکي: د امریکا ولسمشر بارک اوباما په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان د ستونزې د حل لپاره د نوښتونو ژمنه کړې وه، خو وروسته یې خپلې هلې ځلې بندې کړې او داسې استدلال کېده چې امریکا د پردې تر شا د هند او پاکستان ترمنځ د شخړو کمولو هلې ځلې چټکې کړي او له دغو دوو هېوادونو څخه غواړي چې په افغانستان کې دې خپلې بې باورۍ کمې کړي. د هند او پاکستان په خبرو کې وروسته، افغان او امریکایي چارواکي هم شامل شول. د امریکا متحده ایالات په عین حال کې غواړي، چې د ایران په گډون، د افغانستان په نورو گاونډیانو سیاسي فشار ونه زیات کړي تر څو هغوی هم د افغانستان د جگړې په ختمولو کې مرسته وکړي. احمد رشید لیکي: د امریکا د متحدو ایالاتو د دې پالیسۍ زیاته برخه پخواني خاص استازي ریچارد هلوبروک لیکلې وه. نوموړی په تېر ډیسمبر کې مړ شو. سپینې ماڼۍ هغه مهال د هولبروک نظریاتو ته زیات پام نه کاوه خو دا مهال د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا له نوي خاص استازي مارک گروسمان سره د امریکا د حکومت ټولې برخې او په خاص ډول ولسمشر اوباما همکاري کوي. احمد رشید په مقالې کې زیاتوي، په راتلونکي ډیسمبر میاشت کې به د جرمني په بن ښار کې تر لسو کالو وروسته بله غونډه جوړه شي. د بن په لومړي کنفرنس کې طالبانو ته ونډه نه وه ورکړل شوې او بهر ساتل شوي وو، دا ځل به طالبانو ته پوره ونډه ورکول شي، که څه هم چې تر دغې نېټې پورې ممکن د سولې تړون نهایي نه شي. د لیکوال په نظر، په افغانستان کې د جگړې پای پیل شوی، خو دا به په ناټو او امریکا پورې اړه ولري، چې هغوی خپله ونډه څه ډول پر ځای کوي. ځینې ناټو هېوادونه نه غواړي چې له افغانستان څخه د خپلو عسکرو په ایستلو کې عجله وکړي. د دوی په فکر، دا به په افغانستان کې ستر مصیبت رامنځ ته کړي، خو اصلي خبره داده چې واشنگټن دامهال دې نتیجې ته رسېدلی چې د افغانستان ستونزه باید د پوځي قوت پر ځای، له سیاسي لارې حل شي، دا په تېرې یوې لسیزې کې یو ستر بدلون او بری گڼل کېږي.

د دفاع وزارت چارواکي دې ...

د یاد برید په مخنیوي کې پاتې راغلي دي. هغه وویل، چې د دفاع د وزارت چارواکي د وزارت د ننه امنیت نه شي نیولای، نو د خلکو او د هېواد د سرحدونو امنیت به څنگه تامین کړي. ده زیاته کړه: ((دوی (د ملي دفاع د وزارت چارواکو) ته د شرم ځای دی، چې په وزارت کې یې د ننه چاودنه کېږي.)) حارث وایي، چې د ورمې ورځې پېښې ته په کتو سره د دغه وزارت چارواکي باید ډېر ژر استعفا ورکړي. په دې جرگه کې د فراه استازی گل احمد اعظمي هم وایي، چې د ملي دفاع وزارت په رهبرۍ کې باید بدلون راشي، تر څو په راتلونکي کې د ورته پېښو مخه ونیول شي. ده د دفاع د وزارت چارواکو ته په خطاب کې وویل: ((ته، چې خپل امنیت نه شي نیولای، نو د خوست، پکتیا او د هېواد د سرحدونو امنیت به څرنگه ونیسې.)) په مشرانو جرگه کې د زابل استازي محمد داوود حساس هم وویل، چې که د دفاع د وزارت چارواکي امنیت نه شي ټینگولای، باید خپلې دندې پرېږدي. دی زیاتوي: ((د خواشینۍ ځای دی، چې زموږ امنیتي ارگانونه له پېښې وروسته لاس په کار کېږي.))

هغه وایي، چې د ورمې ورځې او تېرو څو نورو پېښو ثابته کړه، چې د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې گڼ شمېر مخالفینو ځای نیولی دی. تېره اونۍ د ملي امنیت رییس رحمت الله نبیل هم د ولسي جرگې په عمومي غونډه کې ویلي وو، چې یو شمېر مخالفینو د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې ځای نیولی، خو دوی یې د پیدا کولو هڅې پیل کړې دي.

له تېرې اونۍ راپه دې خوا دا دریم ځانمرگی برید دی، چې له نظامي جامو څخه په گټې اخیستو ترسره کېږي.

دوې ورځې مخکې یوه تن، چې د ملي اردو جامې یې پر تن وې، په لغمان کې د ۲۰۱ سېلاب قول اردو د گارنیزیون پر قوماندانۍ برید وکړ، چې په پایله کې یې د ملي اردو څلور او د ایساف پنځه سرتېري ووژل شول او د ملي اردو څلور سرتېري او څلور ژباړونکي ټپیان شول. د تېرې جمعې په ورځ هم یوه تن، چې نظامي جامې یې پر تن وې، په کندهار کې ځانمرگی برید وکړ او د کندهار امنیه قوماندان لوی پاسوال خان محمد مجاهد یې وواژه. د پژواک د راپور له مخې، د دایکنډي د خلکو استازي نجیبې حسیني هم د مشرانو جرگې په پرونۍ ناسته کې وویل: ((تر نورو موږ پر دفاع وزارت ډېر حساب کاوه، خو پرونۍ پېښې زموږ هیلې پرې کړې.)) نوموړې د ملي دفاع د وزارت د چارواکو د استعفا او بدلون په اړه څه ونه ویل، خو زیاته یې کړه، چې دغه وزارت باید په راتلونکي کې د دا شان پېښو د مخنیوي په موخه خپل کشفي ارگانونه پیاوړي کړي.

د حسیني په وینا، په دې وروستیو کې د افغان دولت وسلوالو مخالفینو خپله جنگې تگلاره بدله کړې او په کار ده، چې امنیتي ځواکونه هم دغه کار وکړي.

خوست په تېر یوه کال ...

نعیمي وویل: ((موږ باید د ښې حکومتدارۍ د روحیې په پیدا کولو او پیاوړتیا او همداشان د شفافو اجرآتو په درشل کې خپل ولس ته وړ او لازم خدمات ترسره کړو او هڅه وکړو، چې په خپلو اجراتو کې د شفافیت ترڅنگ په خپلو کې یووالی او همغږي ولرو. ترڅو کولای شو د یوالي، شفافیت، همغږۍ او ښې حکومتدارۍ په چوکاټ کې خپل راسپارل شوي مسوولیتونه په پوره بریا سره مخ ته یوسو.)) خوست والي بیا د یاد ولایت د ۹۰۰ تنو مامورینو د کاري ظرفیت د لوړولو لپاره له مرکز کابل څخه د اداري اصلاحاتو په چوکاټ کې د روزونکو یوه ډله وغوښته او هلته یې د مامورینو په مسلکي روزنه پیل وکړ. د دې ترڅنگ یې د خوست هغو ادارو ته چې د کار کوونکو شمېره یې لږه وه شاوخوا ۳۰۰ تنه مسلکي کسان وروپېژندل او پر ځوانانو یې غږ وکړ، چې مسلکي کدرونو ته د خوست په ادارو د کار کولو لومړیتوب حق ورکول کېږي، چې له دې سره یو زیات شمېر په بېلابېلو برخو کې مسلکي ځوانان په ادارو کې پر دندو وگومارل شول. خوست والي له ادارو څخه وخت ناوخته لیدنه کوله او د ادارو کارونه یې په خپله له نژدې لیدل او د مامورینو د راتگ او تگ کاري وخت یې څېړه، چې له دغو یادو شویو کارونو وروسته اوس د خوست ټولې اداري د سهار له اتو بجو د مازیگر تر څلورو بجو پورې فعاله او مراجعین پر ته له کومې ستونزې خپل ورځني کارونه په ادارو کې خلاصوي او دغه لړۍ نه یوازې د خوست مرکز، بلکې ولسوالیو ته هم غځول شوې او د ولسوالیو د خلکو هغه کارونه، چې په ولسوالیو پورې اړوند دي هغه هملته په ولسوالیو کې په اړونده څانگو کې خلاصیږي او د ولسوالیو خلک اوس اړ نه دي، چې د خپلو عادي رسمي کارونو لپاره د خوست ښار ته راشي او د کارونو د خلاصون په موخه څو شپې په هوټلونو کې تېرې کړي، بلکې خپل کارونه په ولسوالیو کې خلاصوي. که څه هم چې لا اوسم هم په ځینو ادارو کې یو څه ستونزې شته، خو د له منځه وړلو لپاره یې والي هوڅ کړی، چې د خوست ولایت اداره به د هېواد په کچه یوه نمونوي اداره جوړوي. په هر ځای کې چې سالمه اداره رامنځ ته شي او د ولس ستونزو ته د حل په ستر گه وگوري، نو هلته حکومت او نظام حاکمیت مومي او قانون په سمه توگه پلی کېدای شي، چې اوس د خوست ولایت اداره هم د والي نعیمي په نه ستړو کېدونکو هڅو د سالمې اداري لور ته روانه ده، خلکو هم درک کړې، چې دلته نظام او حکومت شته او قانون د پلي کېدو په درشل کې دی، خو لا نورو هڅو او رغنده گامونو پورته کولو ته هم اړتیا شته.

پاتې لري...

خوست په تېر یوه کال کې

د باتور لیکنه

شاوخوا یو کال مخکې خوست ولایت ناامنیو دومره بدرنگه کړې و، چې د خوست د نامه له اورېدو سره به د سړي سترگو ته ډله ییز ځانمرگي بریدونه، چاودنې، مخامخ بریدونه او ویجاړۍ درېدې او د دولتي پلاویو په گډون د ډېرې هغو کسانو زړه خوست د تگ لپاره نه کېده، چې په دې ولایت کې یې دندې درلودې. هغه مهال په خوست ولایت کې زیاتره اداري بندې وې او کومې، چې خلاصې هم وې، نو مامورین به یې د سهار په لسو بجو راغلل او د غرمې له دوو، مخکې به بېرته کورونو ته لاړل، چې زیاتره مامورینو به د ورځې له دوو ساعتونو زیات کار په دفترونو کې نه کاوه. هغه مهال د خوست زیاترو ادارو رییسان نه درلودل او که به وه هم هغه به سرپرست و، ددې پرځای، چې ځینې کسان په خوست کې خپلې دفتري ستونزې حل کړي، هغوی به کابل ته راتلل او څو شپې به یې په هوټلونو کې تېرولې او خپلې اداري ستونزې یې حلولې. هغه مهال په خوست کې یو شمېر دولتي چارواکیو هم د دولت د مخالفینو ترڅنگ په دې ولایت کې د شخصي گټو په موخه او به خړولې او کبان یې په کې نیول او مرکزي حکومت ته یې داسې ښودله، چې خوست ناسور زخم دی، چې ورنژدې کېدل ور ته خطرناک دي.

یو کال مخکې چې خوست د ناامنیو سور تنور جوړ شوی و او هره ورځ په کې په لسگونو تنو په چاودنو، ځانمرگو بریدونو او نښتو کې خپل اندامونه له لاسه ورکول او په وینو کې یې شتنکې وهلې، خو هغه مهال د یاد ولایت یو شمېر چارواکي د ځمکو په غصب، د ځنگلونو په وهلو، د بې کیفیته پروژو په پلي کېدو، د دولتي بودیجې په حیف ومیل، د رشتونو په اخیستو، په بهرنیو ځواکونو د بې گناه کسانو په نیولو او له خوست څخه د ځینو څېرو په فراري کولو بوخت و، چې له امله یې هیڅ هم فکر نه کاوه، چې خوست خو پرېږده، چې ان په افغانستان کې هم حکومت شته او هر څوک په خپلسرو، چې له دې سره د حکومت او ولس ترمنځ هیڅ اړیکه نه وه او نه خلکو د خپلو ستونزو د حل په موخه دولتي ادارو ته مخه کوله، د یاد ولایت یو زیات شمېر ځوانانو د زده کړې پر ځای توپک او وسلې ته لاس کړی و، یو شمېر یې د دولت د وسلوالو مخالفینو لیکو ته تللي وو او په زرگونو نورو یې د ځمکو پر سر د قومي شخړو په لیکو کې ولاړ او وسله یې اخیستې وه.

یو کال مخکې به وسلوال مخالفین د گاونډي ولایت پاکستان له شمالي وزیرستان څخه، چې خوست سره اوږده پوله لري را وخوځېدل د خوست ترڅنگ به یې په پکتیا، لوگر، غزني، میدان وردگو، پلازمېنې کابل او ان کاپیسا او پروان ولایتونو کې ځانمرگي بریدونه، چاودنې او وسلوال بریدونه کول، ځکه چې د خوست ولایت په سرحدونو کې سم کنټرول، اداره او همغږي نه وه او له همدې امله وو، چې د خوست له ناامنۍ یاد ولایتونه هم اغېزمن شوي و او هره ورځ به د وجود د غړیو په څېر دربدل او ډول ډول پېښې به رامنځ ته کېدې. یو کال مخکې په خوست کې د اداري د نشتوالي او ناامنیو له امله د خوست ولایت مقام، چې د خوست ښار په زړه کې دی، تړلی و او د ولایت د مقام سرپرست له نورو چارواکو سره په کور کې ورځنۍ چارې مخ ته بیولې او ددې ترڅنگ د خوست – پکتیا ترمنځ د غځېدلې لارې د جوړونې چارې، چې د یوې هندۍ کمپنۍ له خوا پرمخ وړل کېدې د ناامنیو له امله په ټپه ودرېدې او یادې کمپنۍ ددې لارې له جوړونې لاس واخیست.

خوست ولایت د هېواد هغه سرحدي ولایت دی، چې له گاونډي هېواد پاکستان په ځانگړې توگه له شمالي او جنوبي وزیرستانونو سره شاوخوا ۱۸۴ کیلومتره پوله لري. شمالي او جنوبي وزیرستانونه هغه سیمې دي، چې د افغانستان لپاره سرطان گرځېدلي او زموږ د هېواد د وجود زیاتره غړي ترې دردېږي، چې خوست په لومړۍ کرښه کې واقع او د دغه سرطان هر غځ او وړوکی درد یې دردوي.

د ۱۳۸۹ دوري د میاشتې په شپږمه، دغو ناخوالو او ستونزو د خوست ولایت ولس اړ کړ، چې باید مرکزي دولت یاد ولایت ته یو وطن دوست او وړ والي وټاکي، ترڅو پورې یادې ستونزې او ناخوالې پای ومومي، چې بلاخره په ذکر شوې نېټې په خوست کې قومي مشرانو د یوې پراخې غونډې په ترڅ کې په ولسمشر حامد کرزي غږ وکړ، چې خوست دې له سقوط څخه وژغوري او ژر تر ژره دې رښتیني والي ورته راولېږي. دغو قومي مشرانو غوښتنه وکړه، چې د خوست ولایت ستراتیژیک موقعیت ته په کتو سره باید دا ولایت یوه ورځ هم بې والي نه وي او هغه هم باید داسې والي ولري، چې د ولایت په چارو کې ښه تجربه او مخینه ولري، د ولس په ستونزو، اړتیاوو او غوښتنه خبر وي او د هغو د حل لپاره بنسټیز پلان ولري. دغو سلگونو قومي مشرانو د یوه تجربه لرونکي او صادق والي د ټاکلو غوښتنه کوله او ویل یې، چې نور باید دا ولایت له بې سرنوشتۍ څخه خلاص شي. په رښتیا چې خوست ولایت یوه وطن دوست، تجربه لرونکي، مسلمان، مبتکر، ځوان، باتقوا، زړه سواند، له ولس سره د ښو اړیکو لرونکي او هڅاند والي ته اړتیا درلوده، ځکه چې ددې ولایت ولس، د خوست له جوړونې، پرمختگ، سولې، زده کړې، امنیت او له نورو ولایتونو سره ددې ولایت له یال کولو سره مینه لري. د خوست ولایت اوسېدونکي هغه ولس دی، چې په تېرو دوو ولسمشرۍ ټاکنو کې یې په غوڅ اکثریت ولسمشر کرزي ته ښځو او نارینه وو رایه ورکړه او د هغه ننگه یې وکړه.

د ۱۳۸۹ دوري د میاشتې په ۱۲ مه، د سیمه ییزې خپلواکې اداري په وړاندیز او د ولسمشر کرزي په منظورۍ د میدان وردگو مخکنی والي او دیپلومات عبدالجبار نعیمي د خوست د والي په توگه وټاکل شو، چې د خوست ولایت د ولس په ډولونو بدرگه شو.

عبدالجبار نعیمي شاوخوا درې کاله مخکې د میدان وردگو ولایت د والي په توگه څه باندې درې کاله دنده اجرا کړه او بیا یې په خپله استعفا وکړه.

نعیمي د میدان وردگو په تېرو ۲۵ والیانو کې هغه لومړنی والي و، چې تش په نامه میدان ښار یې په رښتیني توگه ښار کړ، ددې

لومړۍ برخه:

ولایت ټولو ولسوالیو ته یې متوازنه بیارغونه وغځوله، د ولس او دولت ترمنځ فاصله یې لنډه کړه، د خپلسرو عملیاتو مخه یې ونیوله او د سلگونو میلیونو ډالرو راجلب شویو بهرنیو مرستو په لگښت یې په دې ولایت کې بېلابېلې پروژې پلې کړې.

د خوست د والي په توگه د نوموړي ټاکنه د مرکزي حکومت یو پرځای گام وبلل شو او یو زیات شمېر خلکو یې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې هرکلی وکړ، په ځانگړې توگه د خوست ځوربدلي ولس.

د ۱۳۸۹ کال دوري په ۱۵ مه، په کومه ورځ چې نوموړی د خوست ولایت د مقام پر څوکۍ کېناست، نو تر همدې شېبې، چې د سهار شاوخوا لس بجې وې د ولایت مقام دروازې تړلې وې، چې بیا د خوست له والي سره له کابل څخه د تللي پلاوي په مخ کې د خوست سرپرست والي یوتن مېلمستون ته د دروازو په کلي گانو پسې ولېږه، چې د کلي گانو تر راوړلو پورې نوی والي (نعیمي) او ورسره پلاوی قفل دروازو ته ولاړ وو. بله یې لا دا چې د خوست دولتي مېلمستون، چې د مېلمنو لپاره جوړ شوی و، د شخصي گټې په موخه هغه مهال بهرنیو اتباعو ته په کرایه ورکړل شوی و او پیسې یې شخصي جیبونو ته تللې. په یوه ولایت کې چې د ولایت مقام یې تړلی وي او مېلمستون یې په کرایه ورکړل شوی وي، نو تاسو فکر وکړئ، چې هلته به نور څه حال وا و هلته به د نوي والي کار کول څومره زور غوښته، ترڅو د اوس په څېر د خلکو د باور وړ اداره رامنځ ته شي.

د خوست اوسنی والي عبدالجبار نعیمي، چې کله د ۱۳۸۹ کال د وري د میاشتې په ۱۵ مه نېټه رسما د خوست د والي په توگه د یاد ولایت ولس ته معرفي شو، هغه د خپلو خبرو په ترڅ کې په ډاگه کړه، چې لومړی به د خوست ټولې اداري د دولت له کاري لایحې سره برابرې فعالوي، د امنیت د ټینگښت په موخه به داسې گامونه پورته کړي، چې د ناامنیو د پېښو کچه د پام وړ راښکته او د وسلوالو د هر ډول د تخریب مخه به د پېښې له پېښېدو مخکې نیسي او ورانکارو ته به د پټېدا ځای هم ورپرېنږدي.

هغه وویل چې د اداري فساد او اختلاس ریښې، چې ولس ترې تر پوزې راغلی او د حکومت نوم یې د نړۍ په کچه بدنام کړی او باسي او په دې برخه کې به د هیڅ لحاظ ونه کړي او په رشوت او اختلاس تورن کسان چې په هره کچه وي د قانون منگولو ته به یې سپاري.

ددې ترڅنگ یې ژمنه وکړه، چې د ځمکو غصب چې په خوست کې عام دود گرځېدلی و او د خوست د شریفو قومونو ترمنځ یې دښمني تر هره کوره رسولې د پای ټکی به ورته ږدي او هغه په زرگونو ځوانان، چې د ښوونځي او قلم پرځای یې د ځمکو پر سر د قومونو ترمنځ جگړو او توپک ته مخه کړې هغه به بې وسلې کوي او په بېلابېلو سیمو کې ددې قومونو ترمنځ به جوړ شوي سنگرونه ویجاړوي او د ځمکو ټولې شخړې به د عدلي او قضایي ارگانونو له لارې حل کوي.

همدارنگه یې د خوست ولس ته ډاډ ورکړ، چې بهرنۍ ځواکونه به وروسته له دې له همغږۍ پرته عملیات نه کوي او د خوست هغه بندیان، چې د بگرام په زندان کې دي هغه به مرحله په مرحله راخوشې کوي او د هغو بندو پروژو بهیر به بېرته پیلوي، چې د اداري د نشتوالي له امله یې کارونه په ټپه درېدلي وو.

خوست والي علماوو، قومي مشرانو، جهادي قوماندانانو، د مدني ټولنو استازیو، فرهنگي شخصیتونو او یو شمېر روڼ اندو سره ددغه ولایت د بیارغونې او جوړونې په موخه پراخه غونډې او لیدنې وکړې.

خوست والي لومړی ددغو ادارو د فعالولو لپاره له ټولو ادارو څخه لیدنه وکړه، بیا یې د مامورینو ستونزې واورېدې او د ادارو اړتیاوې یې مشخصې کړې، تر هغه وروسته یې په ادارو د مکافاتو او مجازاتو د سیستم د پلي کېدو اعلان وکړ، چې په ترڅ کې یو شمېر وطن دوسته مامورین او مسوولین په نغدي مکافاتو او ستاینلیکونو ونازول او یو شمېر هغه کسان، چې په ادارو کې یې رشوت او اختلاس دود کړی و او د خلکو قانوني کارونه یې ځنډول او پیسو اخیستو ته یې لارې جوړولې، هغه یې له دندې گوښه او د قانون منگولو ته یې وسپارل، چې په دې کې ان یو شمېر څارنوالان او قاضیان هم شامل وو.

والي وویل: ((په ادارو کې د چارو د ښه سمون په خاطر به موږ د ټولو اړتیاوو رفع کولو په موخه د ولایت او همدارنگه پلازمېنې کابل په کچه هڅه کوو، ترڅو نور په ادارو کې هېڅ نوع نېمگړتیاوې ونه لرو.))

د خوست والي وویل هر څوک چې ښه، په خپل وخت، صداقت، رښتینوالۍ، بریالیتوب او شفافیت سره ډېر کار او خدمت کوي، نو هرومرو به له مکافاتو او نازول کېدو څخه برخمن کېږي او همداشان که څوک خپلې دندې په غفلت او بې پروایۍ سره مخ ته وړي، په خپلو کارونو کې ناکام او پاتې وي له شک پرته به مجازات کېږي.

والي د نورو فعالیتونو او پروگرامونو ترڅنگ هوډ وکړ، چې له ټولو ادارو څخه به په دې موخه لیدنې او کتنې ترسره کړي، ترڅو په ادارو کې ښه نظم، د ښې حکومتدارۍ د روحیې پیدا کولو، کاري پلان جوړولو، د ادارو ترمنځ همغږي، د کاري اړیکو پیاوړتیا، ورسپارل شویو دندو ته د مسوولینو او مامورینو لازمه پاملرنه، په ادارو کې د هر ډول تعصباتو مخنیوی، نظافت، له مراجعینو سره ښه چلند کول، په کارونو کې پوره شفافیت، د انکشافي بودیجې پرځای لگول او همدارنگه له ډونرانو څخه د لاسته راغلو امکاناتو نه لازمه او پرځای استفاده کول دي. د خوست والي نعیمي د کارونو د ارزونې په موخه له طرحه شویو موادو څخه جوړې پاڼې د یوه اداري پلاوي له لارې رسماً د ادارو مسوولینو ته وروسپارلې. هغه وویل چې د هرې اداري مسوول به په نوموړو پاڼو کې د خپلې اداري تشکیلات، په اداره کې پې ار شوي مامورین، په ادارو کې د اداري ملکیت، د وسایلو او وسایطو شتون یا نه شتون، د عادي او انکشافي بودیجې په برخه کې معلومات، د عام المنفعه پروژو په اړه معلومات، له ډونرانو څخه د لاسته راغلو امکاناتو په اړوند معلومات او له هغه څخه څه ډول گټه اخیستنه، کاري اړیکې، د حساب ورکولو پروسه، په ادارو کې د نظم او نظافت او همدارنگه په ادارو کې د سیاسي، قومي او سمتي مفکورو پاللو په اړوند بېلابېل معلومات په رسمي توگه لیکي او ولایت مقام ته به یې په ټاکل شوي وخت کې پرته له کوم عذره سپاري. ۳ مخ

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننگه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com

ACKU